This document has been archived as it no longer reflects current policy

Home Office

نیټه: د ۲۰۲۳ کال د اپریل د میاشتې ۲۴مه

ګرانه میلمه،

د انګلستان حکومت پدې وروستیو کې د هوټلونو او چوپړشویو استوګنځایونو د کارولو د پایته رسونې پلانونه اعلان کړل او خپله ژمنه یې تکرار کړه چې په راتلونکو میاشتو کې به ستاسو سره په انګلستان کې د کورونو په موندلو کې مرسته وکړي.

موږ په دې پوهیږو چې ستاسې د ځینو خلکو لپاره دا اعلان کیدای شي د اندیښنې لامل شي، یا ستاسو د راتلونکي کور د پلان کولو په اړه پوښتنې راپورته کړي. خو موږ غواړو تاسو ته ډاډ درکړو چې د تاسو څخه به د نوي کور د موندلو په ټوله پروسه کې ملاتړ وشي، او دا چې تاسې به له هوټلونو څخه د وتلو په چارو کې له مرستې پرته پاتې نه شئ. د انګلستان حکومت ژمن دی چې ستاسو سره به د مناسبو استوګنځایونو په موندلو کې مرسته وکړي.

موږ به تاسو ته په لیکلي توګه ژر خبر درکړو چې موږ کوم ملاتړ ستاسو سره کولای شو، او داچې له هغه وروسته تاسې باید څه وکړئ. په دې ترڅ کې، د کورنیو چارو د وزارت د اړیکو د ادارې کارکوونکي (HOLOs) او همدارنګه نور ملاتړکوونکي خدمتونه به په هوټلونو کې شتون ولري چې ستاسې هرې پوښتنې یا اندیښنې ته ځواب ووایي.

حکومت د هغو ملکیتونو په شمیر کې هم بدلون ته اشاره کړې چې تاسو ته به وړاندی کیږي. اوس موږ غواړو تاسو ته روښانه کړو چې دا څه معنی لري.

موږ تاسو ته د ۲۰۲۲ کال د  مې د میاشتې په ۹مه نیټه کې لیکلي وو  ترڅو تاسو ته د کور د ښه سمونتیا د پروسې (EMP) د معرفي کولو په اړه خبر درکړو، او درته ووایو چې یوې کورنۍ ته به په اعظمي توګه د استوګنې دوه وړاندیزونه ورکړل شي.

د ۲۰۲۳ کال د مې د میاشتې د ۲یمې نیټې څخه وروسته، د سمونتیا موجوده پروسه به نور شتون ونلري. موږ به اوس د سمونتیا یوه نوې پروسه پلي کړو چیرې چې کورنۍ کیدای شي د مناسب میشته استوګنې یوازې یو تخصیص چې شتون لري د کورنیو چارو د ادارې څخه ترلاسه کړي.

که تاسې یو تخصیص شوی ملکیت ترلاسه کړ، موږ تاسې ته وړاندیز کوو چې هغه ومنئ. که تاسو هغه رد کړ، د میشته استوګنې بل تخصیص نه درکول کیږي او تاسې مجبور یاست چې خپل استوګنځۍ پخپله پیدا کړئ. دا احتمال شته چې ډیر خلک به د نوي پروسې له لارې تخصیص ترلاسه نکړي، او موږ تاسو هڅوو چې هر چیرې چې امکان ولري خپل استوګنځۍ ومومئ.

موږ د هغو کورنیو لپاره چې د نوموړې پروسې غوره وړاندیزونه لري د نوې پروسې له پیل څخه وړاندې وخت په پام کې نیولئ دئ چې دوی په پام کې ونیسو او په ورته وخت کې د ډیرو زیاتو پروسو د پرمخبیولو څخه مخنیوی وکړو.

Archived

This document has been archived as it no longer reflects current policy

مونږ به هرڅومره ملاتړ چې کولی شو ستاسو سره وکړو تر څو ستاسې سره د خپل استوګنځي په ترتیبولو کې مرسته وکړو. لکه په خصوصي کراپې سکټور کې د موجوده طرحې له لارې ملاتړ چې "خپل استوګنځۍ ومومۍ (FYOA)" په نامه یادیږي.

په لنډه توګه، تاسو ته به یا د یوه تخصیص د سمونتیا د پروسې سره سم د استوګنې ځای درکړل شي، او یا به ستاسو سره مرسته وشي چې په راتلونکو اونیو کې خپل استوګنځۍ وموموۍ.

د کورنیو چارو وزارت او زموږ همکاران ژمن دي چې د استوګنې ځای موندلو او روغتیا، تعلیم او کارموندنې ته د لاسرسي په برخه کې د تاسو ملاتړ ته دوام ورکړي ترڅو تاسو په انګلستان کې خپل ژوند ته سمون ورکړئ.

یوازې هغه کسان چې په دوامداره توګه په هوټل یا چوپړشوي استوګنځي کې ژوند کوي د دې نوي پروسې پربنسټ د استوګنې تخصیص د ترلاسه کولو وړ دي او یا به د خپل استوګنځي په موندلو کې ورځنې ملاتړ کیږي. د دې په اړه نور لارښود چې تاسو څنګه کولی شئ د خپل استوګنځي په موندلو پیل وکړئ، ددې لیک سره ضمیمه شوی دی.

په انګلستان کې د ژوند د بشپړ ادغام په لور، میشته هستوګنې ته تلل ستاسو لومړی ګام دی. په راتلونکي کې، تاسو کیدای شي پریکړه وکړئ چې په خپلواکه توګه یوې بلې سیمې ته وخوځیږئ، او وبه کولی شئ د دې کار د کولو لپاره خپل ترتیبات ونیسئ.

که تاسو کومه پوښتنه لرئ، باید د خپل د کورنیو چارو وزارت د اړیکو د ادارې د کارکوونکي سره خبرې وکړئ.

په درناوی،

د بیا میشتیدنې، ځای پر ځای کولو او بیا یوځای کیدو خدمتونه

Archived

This document has been archived as it no longer reflects current policy

**د A ضمیمه**

**تاسو خپل استوګنځی باید څنګه ومومئ؟**

تاسو کولی شئ د لاندې ګامونو په اخیستو سره سمدلاسه د خپل استوګنځي په لټه کې شئ:

۱. په خپل لنډمهاله هستوګنځي کې د شورا له کارکوونکو څخه وغواړئ چې تاسو سره د **ورځنیا ارزونې** په بشپړولو کې مرسته وکړي، ترڅو هغه څه چې تاسو یې توان لرئ محاسبه کړي.

۲. په موقتي استوګنځي کې د شورا د کارکوونکو سره **د تګ لپاره د ممکنه سیمو په اړه بحث وکړئ**. دوی به د شوراګانو سره اړیکه ونیسي ترڅو معلومه کړي چې ایا دوی ستاسو ملاتړ کولی شي او کوم ډول مرستې ته دوی چمتو دي. ټولې شوراګانې به ونشي کولی ستاسو ملاتړ وکړي، مګر د دوی له ملاتړ پرته دا د تاسې د انتقال مخه نه نیسي که تاسو داسې یو ملکیت ومومئ چې مناسب او ارزانه وي.

۳. **د خپل ځای لټون په هغو سیمو کې پیل کړئ** چې ورباندې هوکړه شوې وي. د ملکیتونو د لټون لپاره، تاسو کولای شئ دغه ویب پاڼې لکه Rightmove، Zoopla، OpenRent، یا ډیری نورې وکاروئ. تاسو باید د ډیرو ملکیتونو په اړه پوښتنه وکړئ ترڅو ستاسو د پیداکولو چانس ډیر کړي. ستاسو په لنډمهاله استوګنځي کې د شورا کارمندان په دې باب ستاسو مرستې ته چمتو دي.

4. **کله چې تاسو یو مناسب ملکیت وموند، موضوع په خپل لنډمهاله استوګنځي کې د شورا کارمندانو ته وواياست**. دوی به تاسو ته خبر درکړي چې ایا نوې شورا کولی شي پدې ملکیت کې ستاسو ملاتړ وکړي. که تاسو د خپلې نوې شورا له هوکړې پرته هلته ولاړشئ، دوی به ونه شي کولای ستاسو په هغه سیمه کې چې تاسو هلته ځئ ځایي خدماتو ته د لاسرسي په برخه کې مرسته وکړي.

5. **ستاسو نوې شورا کیدای شي په لګښتونو لکه ابتدايي کرایې، زیرمو او فرنیچر کې د تاسو سره مرسته وکړي**. دوی کیدای شي د بیا میشتیدنې رواني مرستې هم چمتو کړي، لکه له تاسو سره د نږدې ښوونځي او GP په موندلو کې د مرستې کول. د تاسو په لنډمهاله استوګنځي کې شورا کیدای شي ستاسو د لومړنې کرایې، زیرمو، او فرنیچر په لګښتونو کې هم مرسته وکړي.

د کورنیو چارو وزارت کولای شي د تاسو او ستاسو د سامانونو د لیږدولو په موخه کله چې تاسې خپل نوي ملکیت ته ځئ د ټرانسپورټ په برخه کې مرسته وکړي. د وزارت د اړیکو د ادارې سره خبرې وکړئ چې څوک ستاسو لپاره دا تنظیمولی شي.

د استوګنې د موندلو د څرنګوالي په اړه نور معلومات په GOV.UK کې د 'How to Rent' په لارښود کې شتون لري:
www.gov.uk/government/publications/how-to-rent